
بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک


| ګڼه | سرلیک | مخګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | د اقتصاد پوهنځی د رئیس پیغام | ۳ |
| ۲ | د اقتصاد پوهنځی لنډه پیژندنه | ۴ |
| ۳ | د اقتصاد پوهنځی اداري تشکیل | ۷ |
| ۴ | د اقتصاد پوهنځی تشکیلاتي چارت | ۸ |
| ۵ | د اقتصاد پوهنځی اداري جوړښت | ۹ |
| ۶ | د اقتصاد پوهنځی ښکېلي خواوې (سټېک هولډران) | ۱۰. |
| ۷ | د اقتصاد پوهنځی د ۱۴۰۳هـ.ش.کال د فرعي کمیټو جوړښت | ۱۴ |
| ۸ | د اقتصاد پوهنځي څانګې | ۱۷ |
| ۹ | اداره تجارت څانګه | ۱۷ |
| ۱۰ | د اداره تجارت څانګې تشکیل | ۱۸ |
| ۱۱ | د اداره تجارت څانګې چاپ او ناچاپ شوي اثار | ۲۳ |
| ۱۲ | د اداره تجارت څانګې د استادانو ژوندلیکونه | ۲۳ |
| ۱۳ | د ملي اقتصاد څانګه | ۲۸ |
| ۱۴ | د ملي اقتصاد څانګې تشکیل | ۳۰ |
| ۱۵ | د ملي اقتصاد څانګې د استادانو د چاپ او ناچاپ اثارو لست | ۳۵ |
| ۱۶ | د ملي اقتصاد څانګې د استادانو ژوند لیکونه | ۳۵ |
| ۱۷ | د مالي او بانکي څانګه | ۳۹ |
| ۱۸ | د مالي او بانکي څانګې اداري تشکیل | ۴۱ |
| ۱۹ | دد مالي او بانکي څانګې د استادانو چاپ او ناچاپ اثار | ۴۵ |
| ۲۰ | د مالي او بانکي څانګې د استادانو ژوند لیکونه | ۴۶ |
| ۲۱ | د اداري کارکونکو ژوند لیکونه | ۴۹ |

بسم الله الرحمن الرحيم

## د اقتصاد پوهنځی د رئیس پیغام

د تمدنونو د ایجاد او بقا لپاره اقتصاد ځانګړی ارزښت لري . د پخوانیو تمدنونو زوال او له منځه تلو یو لامل د هغوی د اقتصــاد خرابوالی ګڼل کیږي. پخوانی تمدنونه په هغه ځایونو کې رامنځته شوي چې ښیرازه کروندې یې درلودې. په اوسني وخت کې د نفوسو زیاته ګڼه ګونه هم په هغه ځایونو کې ترســترګو کیږي چې پراخه ښــیرازه کروندې لري او کرنه یې د وخت د غوښتنو سره سم د پرمختګ او هوسا ژوند لپاره ګامونه اخلي. په اوسني عصرکې نړیوال په دې هڅه کې دي چې زیاتیدونکي نفوس لپاره د خوراک، پوښـاک او داسـې نورې اړتیاوې په کور د ننه پوره او حل کړي او د وګړو د مهاجرت ، بیوزلۍ ، فقر او لوږې ته د پای ټکی کیږدي .دا کارونه بېغیر د پوهې او ټکنالوژۍ څخه ناشــوني ګڼل کیږي. په کرنه کې چې څومره پرمختګ شــوی دا د پوهانو او زیارکښــانو هغه ثمره ده چې نننۍ نړۍ یې په اقتصــادي توکو بســیا کړي ده . که څه هم په نړۍ کې په ځینو ځایونو کې لوږه او فقر خپل ناولی سیوری په ځینو ټولنو باندې غوړولی،خو بیا هم که د نړۍ موجوده اقتصادي توکي د نړۍ په نفوس په مساویانه ډول ووشل شي،د هغوی د اړتیاوو څخه زیاتیدلی شي.

د نړۍ په بیلابیلو برخو کې د اقتصــاد پوهنتونونه، کرنیزي اداري، زراعتي څیړنیز مراکز او داسې نور اړوند موسسات ددې لپاره کار کوي چې د نړۍ لپاره د خوراک، پوښاک، څښاک او داسې نور توکي د وخت د غوښتنو سره سم تولید او د هوسا او بسیا ژوند لپاره د خلکو په اختیارکې ورکړل شي. افغانستان هم نوموړو موخو او اهدافو ته د رسیدلو لپاره په بیلابیلو ولایتونو کې د اقتصــاد مراکز او اقتصــاد پوهنځی ایجاد کړي دي ترڅو ټولنې ته هغه کادرونه وړاندې کړي چې نوموړو موخو ته په اسـانۍ سـره رسـیدلی شــي. د زیاتیدونکي نفوس لپاره خوراکي توکي او نور په اقتصــاد پورې اړوند شـیان د اقتصــادي پوهې او تکنالوژۍ څخه پرته امکان نه لري، نو ددې لپاره زموږ هیواد ورو ورو ګامونه اخلي ترڅو وکولای شي چې اقتصاد پورې اړوند ټولې اړتیاوې په داخل د هیواد کې حل کړي او کرنیز توکي نورو هیوادونو ته هم صادر کړي.

شـیخ زاید پوهنتون د افغانسـتان په جنوب ختیځ د خوست په ولایت کې تاسیس شوی او د نورو پوهنځیو ترڅنګ اقتصـاد پوهنځی هم په خپل تشـکیل کې لري. پدې څو کلن یون کې اقتصـاد پوهنځی وکولی شـول چې په سـل ګونو ځوان کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي او په

اوسـني وخت کې د افغانسـتان په بیلابیلو ادارو کې خپلو سـپیڅلو دندو ته دوام ورکوي. اقتصـاد پوهنځی په خپلو فارغانو باندې ویاړي چې د خپل ماموریت په دوران کې ښـې لاسته راوړنې لري او د دوی له برکته په اداراتو کې د سمون او پرمختګ څرک لیدل کیږي. د نورې نړۍ اقتصـاد پوهنځی چې څومره امکانات لري زموږ پوهنځی یې نه لري، ولې کوم کوښښـونه چې موږ شـروع کړي دي په ډیر لنډ وخت کې به ان شـا الله د موجوده دولت په همکارۍ سـره د ټولو امکاناتو څخه برخمن شـي .زموږ د پوهنځی تولو اسـتادانو د خپلو هڅو له کبله وکولی شول چې د محصلانو لپاره د غوره او باکیفیته زده کړو زمینه مساعده کړي. خپلو دندو او وظایفو ته په اخلاص او وفادارۍ دوام ورکوي او خپلو سـپیڅلو موخو ته د رسیدلو لپاره په یووالي کار کوي.

په درنښت
پوهنمل شرف الدین شرف
د اقتصاد پوهنځی رئیس

## ۱ د اقتصاد پوهنځی لنډه پیژندنه

د شـیخ زاید پوهنتون د اقتصـاد پوهنځی په کال ۱۳۸۲ کې چې د ۲۰۰۳ میلادي کال سـره سـمون خوري په فعالیت او چارو رسـماً یې پیل وکړ . د اقتصـاد پوهنځی تر اوسـه پورې په مجموعي توګه په په تېرو شـپاړسـو (۱۶) دورو کې ۱۶۲۰ تنه فارغین د ټولنې چوپړ ته وړاندې کړي دي. د شیخ زاید پوهنتون د اقتصـاد پوهنځی چې فعلآ درې دیپارتمنتونه لري په کال ۱۳۸۲ کې یوازې د اداره او تجارت ډیپارتمنت فعالیت درلودو او په کال ۱۳۹۳ کې د مالي او بانکي او ملي اقتصـاد په نوم دوه نورو څانګو هم په فعالیت شـروع وکړه، چې تر او سه یې ۱۶۲۰ تنه محصلین په اداره او تجارت، مالي او بانکي او ملي اقتصاد په څانګو کې ټولنې ته د خدمت په موخه په تیرو شـپاړسـو دورو کې وړاندې کړیدي. د اقتصـاد پوهنځی اداره تعهد لري چې خپلو محصـلینو ته د ښـو خدماتو ترڅنګ بعضـی اسـانتیاوی رامنځ کړی چې خوشـبختـانـه پـه دې موخـه کې تریوه حده موفقیت هم لري، لکـه دیوې کتابخانې لپاره د الماریو ، چوکیو تدارک چې یو څه اندازاه کتابونه هم لري . د اقتصـاد

پوهنځی خپلو موخو ته د رسیدو په خاطر په پام کې لري چې د محصلینو د عملي کارونو د ترسره کولو په خاطر یو مجهز کتابتون ولري، چې په هغه کتابتون کې د هر بخش کافي اندازه کتابونه شتون ولري او د انټرنیټ له اسانتیاوو څخه برخمن وي.

همدارنګه اقتصاد پوهنځی د شپې برنامه هم لري چې یوازې د اداره او تجارت په څانګه کې فعالیت کوي او تر دې مهاله پورې ۵ دورې محصلین ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړې دي.

د اقتصاد پوهنځی چې ۱۹ تنه استادان لري. د دغو استادانو له ډلې څخه ۱۰ تنه د ماسټر او ۹ تنه د لیسانس تحصیلي سویه لري. د یادو ۱۹ استادانو څخه ۶ تنه یې اوس په بهر او داخل کې د دکتورا او ماسټرې زده کړې ترسره کوي.

د اقتصاد پوهنځی مشرتابه په دوامداره توګه هڅې کوي ترڅو د خپلو استادانو د علمي سویې د لوړوالي په خاطر ډیري استادان د ماسټري او دوکتورا له پاره بهرنیو هیوادونو ته ولیږي، د دې څخه علاوه په داخل او خارج کې ورته د لنډ مهاله کورسونو زمینه مساعده کړي؛ ترڅو یې په مسلکي ډول ظرفیتونه لوړ شي.

## لرلید (Vision)

**د اقتصاد علم په برخه کې د ځوان نسل په داسې اسلامي او افغاني روحیه روزل، چې افغانستان د اقتصادي ودې او پرمختګ په برخه کې د ګاونډیو او سیمې هیوادونو سره سیالی وکړای شي.**

## رسالت (Mission)

د ورځې او شپې برنامو په چوکاټ کې د اقتصاد علم تدریس د ملي اقتصاد، مالي او بانکي او اداره او تشبثات په برخو کې او د ملي او نړیوال اقتصاد د موجودو واقعیتونو په نظر کې نیولو سره د نوي علمي څیړنو ترسره کول.

## ارزښتونه (Values)

- په اسلامي او ملي روحیه سره د کادرونو روزل
- معیاري او باکیفیته لوړې زده کړې
- د څېړنې کلتور رامنځ ته کول
- د اکاډمیکې ازادۍ رامنځ ته کول
- سالمه اغېزمنه رهبري
- حساب ورکول
- په چارو کې شفافیت او د فساد پر وړاندې مبارزه کول
- د هر نوع تبعیض څخه ډډه کول

## اهداف (Goals)

د اقتصاد پوهنځی د لرلید، رسالت او ارزښتونو په اساس مشخص ستراتیژیک اهداف ټاکلي دي، چې په لاندې ډول دي.


۱. د تحقیق د انکشاف لپاره زمینه مساعدول.
۲. د استادانو، محصلانو او اداري کارمندانو د ظرفیت لوړول.
۳. د محصلانو لپاره د زده کړو مناسب چاپیریال رامنځ ته کول.
۴. د عایداتي منابعو پیدا کول.
۵. د ذیدخل اړخونو سره د همکارۍ فضاء رامنځ ته کول.
۶. د تضمین کیفیت بشپړ اعتبار سند ساتل.
۷. د محصلانو لپاره په مسلکي برخه کې مشورو د مرکز ایجادول.

## د اقتصاد پوهنځی اداري تشکیل:

**۱. جدول: د اقتصاد پوهنځی د دیپارتمنتونو، تحصیلي درجې او علمي رتبو په تفکیک د استادانو احصایه**

| شماره | دیپارتمنت | رسمي استادانو | د تحصیلي درجې په تفکیک | | | علمي رتبو په تفکیک | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | لسانس | ماستر | دوکتورا | نامزد پوهنیار | پوهنیار | پوهنمل | پوهندوی | پوهنوال | پوهاند |
| 1 | اداره او تجارت | 7 | 3 | 4 | 0 | 3 | 2 | 2 | 0 | 0 | 0 |
| 2 | ملي اقتصاد | 6 | 2 | 4 | 0 | 2 | 0 | 4 | 1 | 0 | 0 |
| 3 | مالي او بانکي | 6 | 4 | 2 | 0 | 4 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 |
| د پوهنځی په سطحه | | 19 | 9 | 10 | 0 | 9 | 2 | 7 | 0 | 0 | 0 |

# د اقتصاد پوهنځی تشکیلاتي چارت



## د اقتصاد پوهنځی اداري جوړښت

| ګڼه | شهرت: نوم | تخلص | دپلارنوم | وظیفه | دیپارتمنت | تحصیل درجه | علمي رتبه | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | شرف الدین | شرف | زاهدالدین | پوهنځی رییس | اداره او تجارت | ماستر | پوهنمل | |
| ۲ | مامورالدین | منګل | نورالدین | مرستیال | ملي اقتصاد | ماستر | پوهنمل | |
| ۳ | حفیظ الله مین | امین | خیال مین | امر | اداره او تجارت | ماستر | پوهنمل | |
| ۴ | رحمت الله | منګل | بهرام خان | امر | مالي او بانکي | ماستر | پوهنمل | |
| ۵ | خالد | پښتون | اخترګل | امر | ملي اقتصاد | ماستر | پوهنیار | |
| ۶ | عبدالفتاح | مفلح | عبدالحکیم | استاد | ملي اقتصاد | ماستر | پوهنمل | |
| ۷ | غازی | پتنګ | میرحکیم | استاد | ملي اقتصاد | ماستر | پوهنمل | |
| ۸ | ګل ولي | محمدزی | محمدعلي | استاد | مالي او بانکي | ماستر | پوهنمل | |
| ۹ | توریالی | سنګین | محمدغني | استاد | اداره او تجارت | ماستر | پوهنیار | |
| ۱۰ | اکمال ناصر | امیري | معین | استاد | اداره او تجارت | ماستر | پوهنیار | |
| ۱۱ | سیدالرحمن | څیرک | قمرګل | استاد | اداره او تجارت | لیسانس | نوماند پوهنیار | |
| ۱۲ | خالد | شاکر | ګل راز | استاد | اداره او تجارت | لیسانس | نوماند پوهنیار | |
| ۱۳ | مرادعلی | زیارمل | سیدعلی | استاد | اداره او تجارت | لیسانس | نوماند پوهنیار | |
| ۱۴ | شفیق الله | هلال | معصوم خان | استاد | ملي اقتصاد | لیسانس | نوماند پوهنیار | |
| ۱۵ | عبدالوهاب | زهیر | محمدطاهر | استاد | ملي اقتصاد | لیسانس | نوماند پوهنیار | |
| ۱۶ | فضل محمد | احمدي | کلام خان | استاد | مالي او بانکي | لیسانس | نوماند پوهنیار | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | محمدعثمان | شریفي | محمدشریف | استاد | مالي او بانکي | لیسانس | نوماند پوهنیار | |
| ۱۸ | رمضان | هڅاند | دین محمد | استاد | مالي او بانکي | لیسانس | نوماند پوهنیار | |
| ۱۹ | اقبال | سکندر | محمد رفیق | استاد | مالي او بانکي | لیسانس | نوماند پوهنیار | |
| ۲۰ | مجیب الرحمن | محبوب‌زی | محبوب الرحمن | تدریسي مدیر | | ماستر | | |
| ۲۱ | سید داود شاه | سیدي | محمدعلي شاه | اجرایه مدیر | | لیسانس | | |
| ۲۲ | محمدیار | محمدي | فتح محمد | اجرایه مدیر | | لیسانس | | |
| ۲۳ | افسر | | صدیق | معتمد | | دولسم‌پاس | | |
| ۲۴ | اصیل جان | - | عبدالله‌خان | خدماتي کارکونکی | | بې سواد | | |
| ۲۵ | زاهد بهادر | | محمدرئیس خان | محافظ | | بې سواد | | |

## د اقتصاد پوهنځی ښکیلې خواوې (ستېک هولډران)

لاندې ادارې او اشخاص د اقتصاد پوهنځی ښکیلې خواوې او ستېک هولډرانو له جملې څخه شمیرل کیږي:

۱–لوړو زده کړو وزارت

۲–شیخ زاید پوهنتون

۳–ولایت مقام

۴–محلي ادارې

۵–ملي تجار

۶–خصوصي متشبثین

۷–دولتي بانکونه

۸–خصوصي بانکونه

د اقتصاد پوهنځی اداره د پورته یادو شوو سکتورنو سره په لازمو وختونو کې د تحقیق د او علمي مشورې د وړاندې کولو په برخه کې پوره همکاري ترسره کړېده.

## کتابتون

اقتصاد پوهنځی، د وخت غوښتنو او اړتیاوو ته په کتو، په ارزښتمنو کتابونو نسبتاً سمبال کتابتون لري. یاد کتابتون ته مسؤل شخص نه دی ګمارل شوی او د مطالعې لپاره په نسبي ډول مناسب ځای لري. همدارنګه استادان او محصلان کولی شي، د کتابتون له مسؤل سره په تفاهم، له ثبت او راجستر وروسته، کتابونه له ځان سره د مطالعې لپاره هم یوسي.
همدارنګه اقتصاد پوهنځی د کتابتون د لاغني کولو لپاره هڅه کوي ترڅو د کتابتون لپاره منظم ډیټابیس جوړ کړي او د مطالعې لپاره منظم چاپیریال رامنځته کړي. د اقتصاد پوهنځی هڅه داده چې الکترونیکي کتابخانه رامنځته کړي او د ګرانو استادانو او محصلینو په واک کې یې ورکړي.



## فېسبوک پاڼه

اقتصاد پوهنځي فعاله فېسبوک پاڼه هم لري، چې د پوهنځي او ټولو څانګو اړوند علمي، کلتوري او... ورځني فعالیتونه، خبرتیاوې، پرمختګونه او مسلکي برخه کې د عامه پوهاوي په پار بېلابېل مسایل خپروي.



### تعمیر:

اقتصـــاد پوهنځی اوس مهال یو باب تعمیر لري چې په دوه پوړونو کې جوړ شــویدی. په نوموړي تعمیر کې اتـه اطـاقـه درسـي خونې، اووه اتـه اطـاقـه اداري خونې، څلور اطـاقـه تشـنابونه شتون لري. اقتصاد پوهنځی چې د شیخ زاید پوهنتون له دوولس ګونو پوهنځیو څخه یوه غوره پوهنځی شـمیرل کیږي، د درسـي او اداري خونو ترڅنګ یو ښـه چاپیریال هم لري. د پوهنځی پـه شــا او خوا کې شـنـه چمنونـه او د ګلانو بـاغـچې شـتـه دي، چې ګران محصلان د تفریح په وخت کې ورڅخه لازمه استفاده کوي او همدارنګه کله نا کله د ازموینو په پار هم د چمنونو څخه کار اخیستل کیږي.

په زده کړه ییز چاپېریال کې، هم اقتصــاد پوهنځی د محصــلانو د زده کړه ییزو مهـارتونو لوړونې په پار ځینې امکانات او آسانتیاوې لري.




### ویبپاڼه:

اقتصــاد پوهنځی خپله ویبپاڼه لري، چې د پوهنځي او کادري غړو اړوند معلومات پکې خپاره شــوي دي. همدارنګه یاد پوهنځی په پام کې لري، چې د علمي، اداري او څېړنیزو چارو، محصلانو پروژو او نورو اړوندو معلوماتو د خپراوي لپاره ځانګړی وېب سایټ جوړ کړي.

## د اقتصاد پوهنځی د ۱۴۰۳ هـ.ش.کال د فرعي کمیټو جوړښت

### تضمین کیفیت کمیټه

| شماره | شهرت | | | تحصیل درجه | پوهنځی | ډیپارتمنت | علمي رتبه | وظیفه | د تیلفون شمیره | کتنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | تحلص | د پلارنوم | | | | | | | |
| ۱ | شرف الدین | شرف | زاهدالدین | ماستر | اقتصاد | اداره او تجارت | پوهنمل | کمیټې رئیس | ۰۷۷۵۱۲۱۲۰۱ | |
| ۲ | اکمال ناصر | امیری | معین | ماستر | اقتصاد | اداره او تجارت | پوهنیار | کمیټې معاون | 0775133538 | |
| ۳ | ماموالدین | منګل | نورالدین | ماستر | اقتصاد | ملي اقتصاد | پوهنمل | کمیټې منشي | ۰۷۷۴۳۵۰۴۵۰ | |
| ۴ | مرادعلی | زیارمل | سید علی | لیسانس | اقتصاد | اداری او تجارت | نامزد پوهنیار | غړی | 0776260614 | |
| ۵ | خالد | شاکر | ګل راز | لیسانس | اقتصاد | اداره او تجارت | نامزد پوهنیار | غړی | 0771653385 | |
| ۶ | عبدالوهاب | زهیر | محمد ظاهر | لیسانس | اقتصاد | ملي اقتصاد | نامزد پوهنیار | غړی | 0770645756 | |
| ۷ | محمد اقبال | سکندر | محمد رفیق | لیسانس | اقتصاد | مالي او بانکي | نامزد پوهنیار | غړی | 0773159903 | |

### د څیړنې، تالیف او ترجمې کمیټه

| شماره | شهرت | | | تحصیل درجه | پوهنځی | ډیپارتمنت | علمي رتبه | وظیفه | د تیلفون شمیره | کتنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | تحلص | د پلارنوم | | | | | | | |
| ۱ | رحمت الله | منګل | بهرام خان | ماستر | اقتصاد | مالی او بانکي | پوهنمل | کمیټې رئیس | 0777766671 | |
| ۲ | غازي | پتنګ | میر حکیم | ماستر | اقتصاد | ملي اقتصاد | پوهنمل | کمیټې معاون | 0779876538 | |
| ۳ | حفیظ الله مین | امین | خیال مین | ماستر | اقتصاد | اداره او تجارت | پوهنیار | کمیټې منشي | 0775574573 | |
| ۴ | عبدالفتاح | مفلح | عبدالحکیم | ماستر | اقتصاد | ملی اقتصاد | پوهنمل | غړی | 0765083627 | |
| ۵ | اکمال ناصر | امیری | معین | ماستر | اقتصاد | اداره او تجارت | پوهنیار | غړی | 0775133538 | |

# د بریښنایي زده کړو کمیټه

| شماره | شهرت | | | تحصیل درجه | پوهنځی | ډیپارتمنت | علمي رتبه | وظیفه | د تیلفون شمیره | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | تحلص | د پلارنوم | | | | | | | |
| ۱ | اکمال ناصر | امیری | معین | ماستر | اقتصاد | اداره او تجارت | پوهنیار | کمیټې رئیس | 0775133538 | |
| ۲ | مرادعلی | زیارمل | سید علی | لیسانس | اقتصاد | اداری او تجارت | نامزد پوهنیار | کمیټې معاون | 0776260614 | |
| ۳ | خالد | پشتون | اخترګل | ماستر | اقتصاد | ملي اقتصاد | پوهنمل | کمیټې منشي | 077615579 | |

# نصاب کمیټه

| شماره | شهرت | | | تحصیل درجه | پوهنځی | ډیپارتمنت | علمي رتبه | وظیفه | د تیلفون شمیره | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | تحلص | د پلارنوم | | | | | | | |
| ۱ | غازي | پتنګ | میر حکیم | ماستر | اقتصاد | ملي اقتصاد | پوهنمل | کمیټې رئیس | 0779876538 | |
| ۲ | مامورالدین | منګل | نورالدین | ماستر | اقتصاد | ملي اقتصاد | پوهنمل | کمیټې معاون | 0774350450 | |
| ۳ | ګل ولي | محمد زی | محمد علي | ماستر | اقتصاد | مالي او بانکي | پوهنمل | کمیټې منشي | 0765855336 | |

# نظم دیسپلین ، چاپیریال ساتنې او محدره توکو پهٔ وړاندې مبارزي کمیټه

| شماره | شهرت | | | تحصیل درجه | پوهنځی | ډیپارتمنت | علمي رتبه | وظیفه | د تیلفون شمیره | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | تحلص | د پلارنوم | | | | | | | |
| ۱ | مامورالدین | منګل | نورالدین | ماستر | اقتصاد | ملي اقتصاد | پوهنمل | کمیټې رئیس | ۰۷۷۴۳۵۰۴۵۰ | |
| ۲ | فضل محمد | احمدی | ګلام خان | لیسانس | اقتصاد | مالي او بانکي | نامزد پوهنیار | کمیټې معاون | 0740463292 | |
| ۳ | عبدالوهاب | زهیر | محمد ظاهر | لیسانس | اقتصاد | ملي اقتصاد | نامزد پوهنیار | کمیټې منشي | 0770645756 | |
| ۴ | خالد | پشتون | اخترګل | ماستر | اقتصاد | ملي اقتصاد | پوهنمل | غړی | 0777766671 | |
| ۵ | مرادعلی | زیارمل | سید علی | لیسانس | اقتصاد | اداری او تجارت | نامزد پوهنیار | غړی | 0776260614 | |

## د ستراتيژيک پلان د تطبيق څخه د څار او نظارت کميټه

| شماره | شهرت: نوم | شهرت: تخلص | شهرت: د پلار نوم | تحصیل درجه | پوهنځی | ډیپارتمنت | علمي رتبه | وظیفه | د تیلفون شمیره | کتنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | شرف الدين | شرف | زاهدالدين | ماستر | اقتصاد | اداره او تجارت | پوهنمل | کميټي رئيس | ٠٧٧٥١٢١٢٠١ | |
| ٢ | محمد اقبال | سکندر | محمد رفيق | ليسانس | اقتصاد | مالي او بانکي | نامزد پوهنيار | کميټي معاون | 0773159903 | |
| ٣ | خالد | شاکر | ګل راز | ليسانس | اقتصاد | اداره او تجارت | نامزد پوهنيار | کميټي منشي | 0771653385 | |
| ۴ | عبدالوهاب | زهير | محمد ظاهر | ليسانس | اقتصاد | ملي اقتصاد | نامزد پوهنيار | غړی | 0770645756 | |
| ۵ | مرادعلی | زيارمل | سيد علی | ليسانس | اقتصاد | اداری او تجارت | نامزد پوهنيار | غړی | 0776260614 | |

## د شکاياتو اوريدو او رورهتيا کميټه

| شماره | شهرت: نوم | شهرت: تخلص | شهرت: د پلار نوم | تحصیل درجه | پوهنځی | ډیپارتمنت | علمي رتبه | وظیفه | د تیلفون شمیره | کتنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | خالد | پښتون | اختر ګل | ماستر | اقتصاد | ملي اقتصاد | پوهنمل | کميټي رئيس | 0777766671 | |
| ٢ | ګل ولي | محمد زی | محمد علي | ماستر | اقتصاد | مالي او بانکي | پوهنمل | کميټي معاون | 0765855336 | |
| ٣ | رحمت الله | منګل | بهرام خان | ماستر | اقتصاد | مالي او بانکي | پوهنمل | کميټي منشي | 0777766671 | |

## فرهنګي او دعوت ارشاد چارو کميټه

| شماره | شهرت: نوم | شهرت: تخلص | شهرت: د پلار نوم | تحصیل درجه | پوهنځی | ډیپارتمنت | علمي رتبه | وظیفه | د تیلفون شمیره | کتنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | عبدالفتاح | مفلح | عبدالحکيم | ماستر | اقتصاد | ملی اقتصاد | پوهنمل | کميټي رئيس | 0765083627 | |
| ٢ | اکمال ناصر | اميری | معين | ماستر | اقتصاد | اداره او تجارت | پوهنيار | کميټي معاون | 0775133538 | |
| ٣ | رحمت الله | منګل | بهرام خان | ماستر | اقتصاد | مالي او بانکي | پوهنمل | کميټي منشي | 0777766671 | |

## د اقتصاد پوهنځي څانګې :

### اداره تجارت څانګه:

د اداره او تجارت څانګه د پوهنځي له فعالیت سره یوځاي په فعالیت پیل وکړ او د اقتصاد پوهنځي له فعالو څانګو څخه یوه څانګه ده، چې استاد میرحبیب شاه ننګمل په ۱۳۸۳ کال کې د لومړي استاد په توګه د نوماند پوهنیار په توګه مقرر شو چې وروسته په ترتیب سره دوکتور رحیم جان دردمل هم د اداره او تجارت په څانګه کې د پوهنمل په توګه دنده پیل کړه چې اوسمهال (۷) نفره استادان لري چې څلور تنه ماستر او پاتې نور یې د لیسانس په کچه زده کړې لري. د اقتصاد پوهنځي تر قیادت لاندې د اداره او تجارت څانګه تردې مهال پورې شپاړلس (۱۷) دورې محصلین فارغ کړیدي چې زیاته برخه یې په دندو ګمارل شویدي او د دوی ګمارنه د هیواد او ټولنې لپاره پرځای تاکنه ده چې د دوی له کارونو څخه خلک او اړونده اداري کاملا رضایت لري چې دا کارزموږ لپاره د فخر وړ خبره ده.

اداره او تجارت څانګه یوه فارغ ورکوونکې څانګه ده، چې فعلا په ټولو څلورو ټولګیو کې یې (۲۱۰) محصلان په درسونو بوخت دي او د دې ترڅنګ د شپې پروګرام هم لري چې (۳۰۱) تنه محصلین یې په (۷) دورو کې ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي او برحال په څلورو ټولګیو کې (۴۹) تنه محصلین په زده کړو بوخت دي.

### داداره تجارت څانګې لرلید او ماموریت:

#### لرلید (Vision)

اداره او تجارت څانګه به په اسلامي او افغاني روحیه سمبال ځوان کهول د افغانستان او سیمې هیوادونو د ضرورتونو رفع کولو لپاره وروزي.

#### مأموریت (Mission)

اداره او تجارت څانګه د خپلو علمي، څیړنیزو او تدریسي چارو په اساس او همدا شان د یو داسې علمي چاپیریال رامنځته کولو سره؛ کوشش کوي، چې په لوړ کیفیت تدرسي او څیړنیز خدمات وړاندې کړي؛ ترڅو د ګاونډیو هیوادونو سره د رقابت جوګه وګرځي.

## د اداره تجارت څانګې تشکيل:

اداره او تجارت څانګه چې ۱۳۸۳ هـ ش کال کې رامنځته شوي، په هغې وخت کې د اداره او تجارت څانګې آمر پوهندوی سيدولي شاه مندوزی ؤ او له هغه څخه وروسته پوهنمل حفيظ الله مين امين د څانګې آمر وروسته پوهنمل شرف الدين شرف د امر په صفت وټاکل شو او اوس وخت کې د څانګې آمر پوهنمل حفيظ الله مين امين دی او نور تشکيل يې په لاندې ډول دی.



پوهنمل حفيظ الله مين امين
د اداره او تجارت څانګې امر



پوهنمل شرف الدين شرف
د اداره او تجارت څانګې استاد



پوهنيار اکمال ناصر اميري
د اداره او تجارت څانګې استاد



پوهنيار توريالی سنګين
د اداره او تجارت څانګې استاد



نوماند پوهنيار مرادعلي زيارمل
د اداره او تجارت څانګې استاد



نوماند پوهنيار خالد شاکر
د اداره او تجارت څانګې استاد



نوماند پوهنيار سيدالرحمن څيرک
د اداره او تجارت څانګې استاد

## د اداره تجارت څانګې استادان:

اداره او تجارت څانګه، د اقتصاد پوهنځي تر چتر لاندې فعاليت لري. په دې څانګه کې د څانګې د آمر په شمول (۷) تنه کادري غړي دي. د يادې څانګې آمر او اړوند علمي کادرونه په لاندې جدول کې درپېژنو.

| ګڼه | نوم او تخلص | د پلار نوم | علمي | علمي رتبه | تخصصي | دنده | عمر | انځور |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حفيظ الله مين امين | خيال مين | ماستر | پوهنمل | MBA | د څانګې آمر | 35 |  |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | شرف الدین شرف | ذاهد الدین | ماستر | پوهنمل | MBA | پوهنځی ریس | 37 |  |
| ۳ | اکمال ناصر امیري | معین | ماستر | پوهنیار | MBA | استاد | 35 |  |
| ۴ | توریالی سنګین | مخمدغني | ماستر | پوهنیار | MBA | استاد | 34 |  |
| ۵ | مرادعلي زیارمل | سیدعلي | لیسانس | نوماند | BBA | استاد | 32 |  |
| ۶ | خالد شاکر | ګل راز | لیسانس | نامزد پوهنیار | BBA | استاد | 35 |  |
| ۷ | سید الرحمن ځیرک | قمرګل | لیسانس | نامزد پوهنیار | BBA | استاد | 24 |  |

## داداره تجارت څانګې کریکولم:

| ګڼه | مضمون | ټولګی | سمستر | نوعیت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | مالي محاسبه | اول ټولګی | اول او دویم | اساسي |
| ۲ | مصارفو سنجش | دویم ټولګی | دریم او څلورم | تخصصي |
| ۳ | انګلیسي د تجارت لپاره | دویم ټولګی | دریم او څلورم | تخصصي |
| ۴ | تمویل | دویم ټولګی | دریم او څلورم | تخصصي |
| ۵ | د مدیریت اساسات | دویم ټولګی | دریم او څلورم | تخصصي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۶ | پانګونه | دویم ټولګی | دریم او څلورم | تخصصي |
| ۷ | مدیریت | دریم ټولګی | پنځم | تخصصي |
| ۸ | بازارموندنې مدیریت | دریم ټولګی | پنځم | تخصصي |
| ۹ | ټولیز کیفیت مدیریت | دریم ټولګی | پنځم | تخصصي |
| ۱۰ | تشبثاتو مدیریت | دریم ټولګی | شپږم | تخصصي |
| ۱۱ | تهیه او تدارکات | دریم ټولګی | شپږم | تخصصي |
| ۱۲ | ټرینینګ/ عملي کار | دریم ټولګی | شپږم | تخصصي |
| ۱۳ | بشري سرچینو مدیریت | څلورم ټولګی | اووم | تخصصي |
| ۱۴ | مالي مدیریت | څلورم ټولګی | اووم | تخصصي |
| ۱۵ | د څیړنې روش | څلورم ټولګی | اووم | تخصصي |
| ۱۶ | ستراتیژیک مدیریت | څلورم ټولګی | اتم | تخصصي |
| ۱۷ | کنترول او بررسي | څلورم ټولګی | اتم | تخصصي |
| ۱۸ | سیمنار | څلورم ټولګی | اتم | تخصصي |
| ۱۹ | مونوګراف | څلورم ټولګی | اتم | تخصصي |

## د اداره تجارت څانګې فارغین:



## د اداره تجارت ځانګې د استادانو لاسته راوړنې:


اداره او تجارت ځانګه د اقتصاد پوهنځی یوه له فعاله ځانګو څخه ده چې هر کال د محصلینو او ټولنې لپاره په بېلا بېلو برخو غوره اقدامات ترسره کوي. د دې لپاره چې د یادې ځانګې استادان د ټولنې په پرمختګ کې رغنده رول ولوبوي؛ نو اداره او تجارت ځانګه دوی ته بېلا بېل موضوعات د سمینارونو، ورکشاپونو او لنډو ګټورو لیکنو له لارې شریک کوي.

اداره او تجارت ځانګه د خپلو اکاډمیکو فعالیتونو تر څنګ د محصلینو او د اقتصاد د برخې شایقینو لپاره د ظرفیت لوړونې په برخه کې هم کار کوي چې د استاد شرف الدین شرف له خوا درې د پښتو ژبې او دوه دانې د انګلیسي ژبې مقالې، استاد حفیظ الله مین له خوا دوه دانې د پښتو ژبې او دوه دانې د انګلیسي ژبې مقالې او د استاد اکمال ناصر له خوا یوه د پښتو ژبې او دوه دانې د انګلسي ژبې مقالې لیکل شوي او په داخلي او خارجي علمي ژورنالونو کې نشر شوي دي او د بېلا بېلو لارو څخه د اړونده برخو مسولینو سره شریک شوي دي.

اداره او تجارت ځانګه د اقتصاد پوهنځی په کتابتون کې یو کوچنی ځانګړی کتابتون لري، چې د اداره او تجارت ځانګې استادانو او محصلینو په هڅو سلګونه کتابونه ورته راټول شوي او همدا شان اداره او تجارت ځانګې استادان څینې ژباړل شوي کتابونه لري چې د اداره او تجارت ځانګې پخوانی استاد پوهندوی سیدولي شاه مندوزی له خوا د کاروباري مفاهمې مهارتونه تر عنوان لاندې کتاب د انګلیسي ژبې څخه پښتو ژبې ته ژباړل شوی د استاد شرف الدین شرف له خوا د کاروبار پیژندنې تر عنوان لاندې کتاب د انګلیسي ژبې څخه پښتو ژبې ته ژباړل شوی او استاد حفیظ الله مین له خوا د کاروبار د بازارموندنې مدیریت (کاروبار تر کاروبار) تر عنوان لاندې کتاب د انګلیسي ژبې څخه پښتو ژبې ته ژباړل شوی او په تدریسي برخه کې د محصلینو لپاره ګټور تمام شوي او د نمونې په شکل له دوی سره شریک شوي دي.

د اداره او تجارت ځانګې استادان هر استاد توریالی، اکمال ناصر، مرادعلي، خالد او سیدالرحمن هم ناچاپ کتابونه لري چې په نږدې راتلونکي کې به چاپ ته وسپارل شي او اړونده برخو کې به موثر تمام شي.

## د اداره تجارت څانګې ژباړل شوي کتابونه:






## د اداره تجارت څانګې چاپ او ناچاپ شوي اثار:

| ګڼه | د استاد نوم | د کتاب نوم | د چاپ کال |
|---|---|---|---|
| ۱ | سیدولي شاه مندوزی | د کاروباري مفاهمو مهارتونه | چاپ ۱۴۰۰ |
| ۲ | سیدولي شاه مندوزی | مالي محاسبې بنسټونه | ناچاپ |
| ۳ | رحیم جان دردمل | د بازارموندنې او پانګونې ترمنځ اړیکې | چاپ ۱۳۹۶ |
| ۴ | رحیم جان دردمل | د بازارموندنې او پانګونې تشکل سرچینې | چاپ ۱۳۹۸ |
| ۵ | شرف الدین شرف | کاروبار پیژندنه | چاپ ۱۴۰۲ |
| ۶ | حفیظ الله مین امین | د کاروبار د بازار موندنې مدیریت(کاروبار تر کاروبار) | چاپ ۱۴۰۲ |
| ۷ | حفیظ الله مین امین | د تولیز کیفیت مدیریت اصول | ناچاپ |
| ۸ | اکمال ناصر امیري | د احصایوي تیوري پیژندنه | چاپ ۱۳۹۹ |
| ۹ | بریالی بریال | نړیوالو بشري سرچینو مدیریت | چاپ ۱۳۹۹ |
| ۱۰ | توریالی سنګین | انترنیتي بازارموندنې پیژندنه | ناچاپ |
| ۱۱ | مرادعلي زیارمل | مالي مدیریت ۱ برخه | ناچاپ |
| ۱۲ | خالد شاکر | مالي مدیریت ۲ برخه | ناچاپ |
| ۱۳ | سیدالرحمن څیرک | بازارموندنې مدیریت | ناچاپ |

## د اداره تجارت څانګې د استادانو ژوندلیکونه:

### د استاد پوهنمل شرف الدین شرف ژوند لیک:

محترم استاد پوهنمل شرف الدین شرف د مرحوم ذاهد الدین زوی چې په ۱۳۶۶ هـ ش کال کې د خوست ولایت اسمعیل خیل او مندوزي ولسوالۍ د اسمعیل خیلو قوم د متهخان په کابل خیلو کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی دی لومړنۍ زده کړې یې د اسمعیل خیلو قوم اړوند متهخان لیسه کې ترسره کړې او د لیسې دورې زده کړې یې د الفتح عالي مرکزي لیسه کې ترسره کړې او په ۱۳۸۴ هـ ش کال کې په اعلی درجه فارغ شوی دی. د فراغت وروسته په ۱۳۸۵ هـ ش کال کې د کانکور له لارې د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته بریالی شوی او په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې په کادري درجې سره د نوموړي پوهنځي څخه فارغ شوی دی. د فراغت وروسته یې د استادۍ مقدسې دندې تکل وکړ

چې په ۱۳۹۰ هـ ش کال کې د ازاد رقابت له لارې شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته په لوړو نمرو سره بریالی او مقرر شو. محترم استاد شرف الدین شرف د وخت د غوښتې په اساس د یو کلن فیلوشیپ لپاره جرمني هیواد ته په ۱۳۹۳ هـ ش کال کې ولیږل شو او په ۱۳۹۴ هـ ش کال کې بیرته خپل هیواد او دندې ته راستون شو. د فیلوشیپ وروسته د پوهنځي ریاست د لزومدید په اساس ورته د اقتصاد پوهنځی معاونیت چارې د ۱۳۹۴ هـ ش کال څخه تر ۱۳۹۶ هـ ش کال پورې ور وسپارل شوې، چې د بریالي معاونیت وروسته د ماستري برنامې لپاره کابل پوهنتون ته په ۱۳۹۶ هـ ش کال کې معرفي شو او په مالي او بانکي څانګه کې یې د ماستري دوره په ۱۳۹۷ هـ ش کال کې په کامیابۍ سره سرته ورسوله او له هغې وروسته ورته یو لړ مسولیتونه وسپارل شول چې یو هم د هغې مسولیتونو څخه د اداره او تجارت څانګې امریت وو چې په ۱۳۹۸ کال څخه د ۱۳۹۹ کال اخیر پورې د اداره او تجارت څانګې امر وو.

محترم استاد پوهنمل شرف الدین شرف د اداري کړنو ترڅنګ په علمي برخه کې هم د پام وړ لاسته راوړنې لري. نوموړي استاد درې پښتو ژبې مقالې، دوې نړیوالې مقالې په داخلي او خارجي معتبرو ژورنالونو کې خپرې کړې دي او یو چاپي اثر د کاروبار پیژندنې په نوم سره لري. د اقتصاد پوهنځی پخوانی رئیس محترم پوهنوال دوکتور رحیم جان دردمل صاحب د تقاعد وروسته د اقتصاد پوهنځی لپاره په ۱۳۹۹ کال کې رئیس وټاکل شو چې اوس هم د بېلا بېلو کمیټو او مسولیتونو ترڅنګ د اقتصاد پوهنځي ریاست مسولیت ور له غاړې دی.

په درنښت

پوهنمل شرف الدین شرف

## د استاد پوهنمل حفيظ الله مين آمين ژوند ليک :

محترم حفيظ الله مين امين د خيال مين زوی چې په ۱۳۶۸ کال کې د خوست ولايت اسمعيل خيل او مندوزی ولسوالی ځړبني کلي په يوه ديندار ه کورنۍ کې زيږيدلی او ابتدايي زده کړې يې د ځړبني کلي په متوسطه ښوونځي کې سرته رسولي او ۱۳۸۶ کال کې د محمدصديق روهي ليسې څخه په اعلی درجه فارغ او په ۱۳۸۸ کال شيخ زايد پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته بريالی او ۱۳۹۱ کال کې له نوموړي پوهنځی څخه په کادر کې فارغ شوی دی. د ۱۳۹۲ کال په اخيرو کې د شيخ زايد پوهنتون وترنري پوهنځی اجرايئه مدير په حيث مقرر شوی او ۱۳۹۴ کال پورې د يادې پوهنځی اجرايئه مدير په حيث يې په پوره امانت دارۍ او صداقت سره دنده سرته رسولي ده. د ۱۳۹۴ کال په نيمايي کې د اقتصاد پوهنځی اداره او تجارت څانګې کادري بست ته بريالی شوی. په ۱۳۹۶ کال کې د اداره او تجارت څانګې د لزومديد په اساس د يادې څانګې لپاره د امر په صفت مقرر شو او په ۱۳۹۷ کال کې د ماستري لوړو زده کړو لپاره ننګرهار پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته معرفي او په ۱۳۹۹ کال کې يې ماستري (MBA) لوړې زده کړې بشپړې کړې، چې د استادۍ مقدسې دندې تر څنګ د پوهنتون په بېلا بېلو کميټو کې د مشر، معاون او غړي په صفت مسوليتونه لري او د اداره او تجارت څانګې امريت کارونه هم ور له غاړې دي.

په درنښت

پوهنمل حفيظ الله مين امين

## د استاد پوهنيار اکمال ناصر آميري ژوند ليک:

محترم اکمال ناصر اميري د معين زوی چې په ۱۳۶۸ کال کې د خوست ولايت اسمعيل خيل او مندوزی ولسوالی حيدرخيلو کلي کې زيږيدلی او تر دولسم ټولګي پورې زده کړې يې د محمد صديق روهي عالي ليسه کې سرته رسولي او ۱۳۸۷ کال کې د محمدصديق روهي ليسې څخه په اعلی درجه فارغ او په ۱۳۸۹ کال شيخ زايد پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته بريالی او ۱۳۹۲ کال کې په کادر کې له نوموړي پوهنځی څخه فارغ شوی دی. د ۱۳۹۳ کال

په نیمایي کې د خوست ولایت تخنیکي او مسلکي زده کړو امریت مربوط د کثیرالرشتوي انستیتوت کې د استاد  په حیث مقرر شوی او ۱۳۹۶ کال کې اقتصاد پوهنځی اداره او تجارت څانګې کادري بست ته بریالی شوی. په ۱۳۹۹ کال کې د ماستري لوړو زده کړو لپاره چین هیواد ته معرفي او په ۱۴۰۲ کال کې یې ماستري زده کړې بشپړې کړې چې اوس د اداره او تجارت څانګې کې د استاد دنده په غاړه لري.

په درنښت

پوهنیار اکمال ناصر امیري

## د استاد پوهنیار توریالی سنګین ژوند لیک :

ښاغلی تورياليٰ  سنګين د محمد غني سنګين زوی په ۱۳۶۹ ه.ش کال کې د خوست ولایت اسمعیل خیلو او مندوزیو  ولسوالي د حیدرخیلو په تره کۍ  کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی دی. تر دولسم ټولګي پورې زده کړې یې د  محمد صدیق روهي عالي لیسه کې سرته رسولي او ۱۳۸۷ کال کې د محمدصدیق روهي لیسې څخه په اعلی درجه فارغ او په ۱۳۸۹ کال شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته بریالی او ۱۳۹۲ کال کې په کادر کې له نوموړي پوهنځی څخه فارغ شوی دی. ښاغلی استاد تورياليٰ سنګين له فراغت وروسته په ۲۰۱۹م کال کې لومړنی فوق لیسانس د هندوستان د بنګلور د ریوا پوهنتون څخه ترلاسه کړی او دوهم فوق لیسانس (MBA) په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې د ننګرهار پوهنتون څخه ترلاسه کړی دی، چې ۱۴۰۳ هـ ش کال کې د علمي کادرونو د جذب په پروسه کې د خوست شیخ زاید پوهنتون په کادري ازموینه کې بریالیتوب ترلاسه کړ، او د یاد پوهنتون د اقتصاد پوهنځي اداره او تجارت څانګې علمي کادر غړی شو.

په درنښت

پوهنیار تورياليٰ سنګين

## د استاد نوماند پوهنیار مراد علي زیارمل ژوند لیک:

محترم مرادعلی زیارمل د سیدعلی زوی چې په ۱۳۷۱ کال کې د خوست ولایت مرکز اړوند منګسو کلي کې زیږیدلی دی، ابتدایي او متوسطه دورې زده کړې یې په شمل پیرانو عالي لیسه کې او ثانوي دوره زده کړې یې د غرغښت عالي او مرکزي لیسه کې بشپړې کړې دي، په ۱۳۹۰ کال کې د غرغښت عالي لیسې څخه په اعلی درجه فارغ او په ۱۳۹۲ کال کې د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی اداره او تجارت څانګې ته بریالی او په ۱۳۹۵ کال د نوموړې څانګې څخه په کادر کې فارغ شوی دی او د فراغت څخه وروسته په نوی کابل بانک کې په دنده وګمارل شو او د نوی کابل بانک سره تر څلور کلن کاري خدمت وروسته په ۱۴۰۰ کال کې د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی اداره او تجارت څانګې کادري بست ته بریالی شو، چې تراوسه په نوموړي پوهنځی کې د استاد مقدسه دنده په غاړه لري او اوس مهال د کابل پوهنتون MBA ماستري برنامه کې په زده کړو بوخت دی.

په درنښت

نوماند پوهنیار مرادعلي زیارمل

## د استاد نوماند پوهنیار خالد شاکر ژوند لیک:

نوماند پوهنیار خالد شاکر د حاجي ګل راز زوی چې په ۱۳۶۸ کال د پکتیا ولایت احمد ابا ولسوالي په مچلغو کلی کې زیږیدلی، لومړنۍ زده کړې یې د مهاجرت په دیار کې د هنګو په سیمه کې پای ته رسولې دي چې وروسته د ثانوي زده کړو په موخه پیښور کې د التقوی عالي تجربوي لیسې څخه په اعلی درجه فارغ شو. د کانکور ازموینې وروسته په ۱۳۸۹ کال د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته بریالي شو او په ۱۳۹۲ کال له نوموړی پوهنځی څخه په کادر کې فارغ او بیا په یاد پوهنځی کې د استاد په حیث مقرر شو. اوس مهال په کابل پوهنتون کې د اداره او تجارت په برخه کې د ماسټري په زده کړو بوخت دی.

په درنښت

نوماند پوهنیار خالد شاکر

## د استاد نوماند پوهنیار سید الرحمن ځیرک ژوند لیک:

ښاغلی سید الرحمن ''ځیرک'' د قمرګل زوی په ۱۳۷۹ هـ.ش کال کې د خوست ولایت موسی خیلو ولسوالي د کوسین خوله کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د زیږی ترخې په عالي لیسه کې ترسره کړې دي په ۱۳۹۶ هش کال کې له الفتح عالي او مرکزي لیسې څخه په اعلی درجه فارغ او په ۱۳۹۷ هـ ش کال کې د لوړو زده کړو په موخه د کانکور عمومي ازموینې له لارې د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی اداره او تجارت څانګې ته بریالی او په ۱۴۰۱هش کال کې له یاد پوهنتون اداره او تجارت څانګې څخه د کادر په درجه د فراغت سند ترلاسه کړ. ښاغلی استاد سید الرحمن ''ځیرک'' له فراغت وروسته په ۱۴۰۳ هـ ش کال کې د علمي کادرونو د جذب په پروسه کې د خوست شیخ زاید پوهنتون په کادري ازموینه کې بریالیتوب ترلاسه کړ، او د یاد پوهنتون د اقتصاد پوهنځي اداره او تجارت څانګې علمي کادر غړی شو.

په درنښت

نوماند پوهنیار سید الرحمن ځیرک

## د ملي اقتصاد څانګه:

## د ملي اقتصاد څانګې پیژند نه:

د ملي اقتصاد ډیپارټمنټ په ۱۳۹۲ هـ ل کال کې تأسیس شو چې په هغه وخت کې یې څلور استادان درلودل چې دوه ماستر او دوه لیسانس په سویه وو.

اوس مهال د ملي اقتصاد ډیپارټمنټ په ۱۴۰۳ کال کې جمله شپږ تنه استادان لري چې څلور یې ماستران، دوه یې لیسانس په سویه دي. چې یو تن استاد یې په افغان نړیوال اسلامي پوهنتون کې دوکتورا په زده کړو بوخت دی او همدارنګه یو تن استاد یې په کابل نړیوال پوهنتون کې د ماستري په زده کړو بوخت دی. ددې ترڅنګ د ملي اقتصاد څانګې استادان د لاندې علمي رتبو درلودونکي دي ، څلور تنه استادان یې پوهنمل علمي رتبې لري، دوه تنه استادان یې نوماند پوهنیار علمي رتبې لري، همدارنګه دوه تنه استادانو یې د پوهندوي

علمي رتبې لپاره موضوعات ثبت کړېدي، چې په نږدې راتلونکي کې به ان شاالله پوهندوي علمي رتبې ترلاسه کړي، چې اوس مهال نوموړي استادان چې په ملي اقتصاد ډيپارټمنټ کې خپلې دندې پرمخ وړي.

## د ملي اقتصاد څانګې لرليد، ماموريت او ارزښتونه:

### لرليد (Vision)

د ملي اقتصـــاد علم په برخه کې په اسـلامي او افغـاني روحيه د ځوان نســل روزل، چې د افغانستان د اقتصادي ودې او پرمختګ په برخه کې رغنده رول ولوبوي.

### مأموريت (Mission)

ملي اقتصاد څانګه هڅه کوي، چې داسې يو علمي او اکاډميک چاپيريال برابر کړي، ترڅو په لوړ کيفيت سره درسـي او څېړنيز خدمات وړاندې کړي، ترڅود ملي او نړيوال اقتصـاد د موجودو واقعيتونو په نظر کې نيولو سره مسلکي اشخاص وروزي.

### ارزښتونه (Values)

- په سپيڅلي ملي روحيه سره د کادرونو روزل
- معياري او باکيفيته لوړې زده کړې
- د څېړنې کلتور رامنځ ته کول
- د اکاډميکې ازادۍ رامنځ ته کول
- سالمه اغيزمنه رهبري
- حساب ورکول
- په چارو کې شفافيت او د فساد پر وړاندې مبارزه کول
- د هرنوع تبعيض څخه ډډه کول

## اهداف (Goals)

- د تحقیق په برخه کې انکشاف لپاره زمینه مساعدول.
- د استادانو او محصلانو د ظرفیت لوړول.
- د محصلانو لپاره د زده کړو مناسب چاپیریال رامنځ ته کول.
- د عایداتي منابعو پیدا کول.
- د ذیده حل اړخونو سره د همکارۍ فضاء رامنځ ته کول.
- د تضمین کیفیت بشپړ اعتبار سند ساتل.

## د ملي اقتصاد څانگې تشکیل:

ملي اقتصاد څانگه چې ۱۳۹۲ کې رامنځته شوې، په هغې وخت کې د ملي اقتصاد څانگې آمر پوهنمل گل شاه صبري ؤ په اوس وخت کې د څانگې آمر پوهنمل خالد پښتون دی او نور تشکل یې په لاندې ډول دی:



## ملي اقتصاد څانګې استادان:

ملي اقتصاد څانګه، د اقتصاد پوهنځی تر چتر لاندې فعالیت لري. په دې ډیپارټمنټ کې د څانګې د آمر په شمول (۶) تنه کادري غړي په درسي فعالیتونو بوخت دي، چې د یادې څانګې اداري او علمي بهير پر مخ وړي. د یادې څانګې آمر او اړوند علمي کادرونه په لاندې جدول کې در پېژنو.

| شمېره | نوم او تخلص | پلارنوم | علمي درجه | علمي رتبه | تخصصي رشته | دنده | انځور |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | خالد پشتون | اخترګل | ماستر | پوهنمل | ملي اقتصاد | د څانګې آمر |  |
| ۲ | مامورالدين منګل | نورالدين | ماستر | پوهنمل | ملي اقتصاد | استاد |  |
| ۳ | غازي پتنګ | میرحکیم | ماستر | پوهنمل | ملي اقتصاد | استاد |  |
| ۴ | عبدالفتاح مفلح | عبدالحکیم | ماستر | پوهنمل | ملي اقتصاد | استاد |  |
| ۵ | عبدالوهاب زهیر | محمد طاهر | لیسانس | نوماند پوهنیار | ملي اقتصاد | استاد |  |
| ۶ | شفیق الله هلال | معصوخان | لیسانس | نوماند پوهنیار | ملي اقتصاد | استاد |  |

## د ملي اقتصاد څانګې کريکولم:

| کڼه | مضمون | ټولګی | سمستر | نوعيت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | لوی اقتصاد اساسات | اول ټولګی | اول او دوهم | اساسي |
| ۲ | کوچنی اقتصاد اساسات | اول ټولګی | اول او دوهم | اساسي |
| ۳ | کوچنی اقتصاد | دوهم ټولګی | اول | اساسي |
| ۴ | اقتصادي نظرياتو تاريخ | دوهم ټولګی | اول | تخصصي |
| ۵ | لوی اقتصاد | دوهم ټولګی | دوهم | اساسي |
| ۶ | نړيوال اقتصاد | دريم ټولګی | اول او دوهم | تخصصي |
| ۷ | پرمختيا تيوري | دريم ټولګي | اول | تخصصي |
| ۸ | چاپيريال اقتصاد | دريم ټولګی | اول | تخصصي |
| ۹ | منطقوي اقتصاد | دريم ټولګي | دوهم | تخصصي |
| ۱۰ | افغانستان اقتصاد | دريم ټولګی | دوهم | تخصصي |
| ۱۱ | پرمختيا سياست | دريم ټولګي | دوهم | تخصصي |
| ۱۲ | عمومي اقتصادي سياستونه | څلورم ټولګی | اول | تخصصي |
| ۱۳ | اسلامي اقتصاد | څلورم ټولګي | دوهم | ا تخصصي |

## د ملي اقتصاد څانګې فارغين:



## د ملي اقتصاد څانګې د استادانو او محصلینو لاسته راوړنې:

د ملي اقتصاد څانګې له خوا یو سیمینار د اداري فساد پر ضد د مبارزې تر نامه لاندې استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو ته وړاندې کړل شو، چې د پوهنتون او همدارنګه د پوهنځی څخه یکې ګڼ شمیر براخوالو ګډون درلود.


په دې سیمینار کې ګډونوالو ته د فساد په اړه مهم معلومات وړاندې شول، همدارنګه د اسلام له نظره د فساد پیژندنه، د فساد مخنیوي لارې او د فساد سره د مبارزې لارې چارې وښودل شوې.


د دې تر څنګ د ملي اقتصاد څانګې استادانو هریو مامورالدین منګل لخوا څلور نړیوالي او دوه داخلي مقالې خپرې شویدي، استاد خالد پشتون دوه نړیوالي او دوه داخلي مقالې خپرې کړیدي، همدارنګه استاد غازي پتنګ درې نړیوالي مقالې خپرې کړیدي. عبدالفتاح مفلح لخوا دوه داخلي او درې نړیوالي مقالې خپرې شویدي. چې پورته مقالې په نړیوالو او داخلي علمي ژورنالونو کې نشر شوي دي.

ملي اقتصاد څانګه د اقتصاد پوهنځی په کتابتون کې یو کوچنی ځانګړی کتابتون لري، چې د ملي اقتصاد څانګې استادانو په هڅو په سلګونه کتابونه ورته راټول شوي.

ملي اقتصاد څانګې استادان ځینې ژباړل شوي او ځینې لیکل شوي کتابونه لري، چې د ملي اقتصاد څانګې پخوانی استاد ګل شاه صبري یو کتاب ژباړلی دی او د دې تر څنګ هر یو استاد مامورالدین منګل د لوی اقتصاد تیوري په نوم کتاب ژباړلی دی. د استاد منګل دوهم کتاب هم ژباړلی شوي، چې په نږدې راتلونکي کې به چاپ شي، همدارنګه خالد پشتون استاد نړیوال اقتصاد تجارت او تمویل کتاب پښتو ژبې ته ژباړلی چې په راتلونکي کې به چاپ شي، همدارنګه استاد عبدالوهاب زهیر او استاد عبدالفتاح مفلح هم یو یو نا چاپ کتابونه دي.

## د ملي اقتصاد څانګې د استادانو ژباړل شوي کتابونه:



## د ملي اقتصاد څانګې د استادانو د چاپ او ناچاپ اثارو لست:

| ګڼه | د استاد نوم | د کتاب نوم | د چاپ کال |
|---|---|---|---|
| ۱ | ګل شاه صبري | تمویل | چاپ ۱۳۹۱ |
| ۲ | مامورالدین منګل | لوی اقتصاد تیوري | چاپ ۱۳۹۹ |
| ۳ | خالد پشتون | نړیوال اقتصاد تجارت او تمویل | چاپ ۱۴۰۲ |
| ۴ | غازي پتنګ | نړیوال اقتصاد تیوري او سیاستونه | ناچاپ |
| ۵ | عبدالفتاح مفلح | چالش ها فرا راه تطبیق نظام اقتصاد اسلامي در افغانستان | ناچاپ |
| ۶ | عبدالوهاب زهیر | کوچني اقتصاد اساسات | ناچاپ |

## د ملي اقتصاد څانګې د استادانو ژوند لیکونه:

### د استاد پوهنمل مامورالدین منګل ژوند لیک:

پوهنمل مامورالدین منګل د نورالدین زوی د خوست ولایت د قلندر ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی چې فعلا د خوست ولایت اسمعیل خیلو او مندوزیو ولسوالۍ کې اوسیږي. په ۱۳۸۲ ه ش کال د محمد صدیق روهي لیسې څخه فارغ شوي، چې خپلې لوړې زده کړې یې په شیخ زاید پوهنتون کې بشپړې کړیدي، چې په ۱۳۸۷ کال د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی د لیسانس په کچه فارغ شوی دی، چې په ۱۳۸۸ ه ش کال د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی کې د استادۍ مقدسه دنده پیل کړه او په ۱۳۹۶ ه ش کال د کابل پوهنتون د ملي اقتصاد په څانګه کې د ماسترۍ لوړې زده کړې تکمیل کړي دي. بناعلی منګل یو د لوی اقتصاد تیوري په نوم ژباړل شوی ، یو د ماسترۍ تیزس (سوداګریز بانکونه او د هغوی تاثیرات د افغانستان په اقتصاد باندې) څېړنیز اثر او همدارنګه څلور نړیوالې او دوه داخلي څېړنیزې مقالې لري.

## د استاد پوهنمل خالد پښتون ژوند لیک:

ښاغلی استاد پوهنمل خالد پشتون د مهاجرت په وخت کې په پاکستان هیواد کې د اخترګل په کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي، د ښاغلی استاد پشتون کوچنیتوب د هجرت په لمن کې تېر شوی دی لمړنۍ زده کړې یې په خوست ولایت غرغښت عالی لیسه کې تر سره کړې له نوموړې لیسې څخه فارغ شوی، تر فاراغت وروسته یې کانکور له لارې د خوست شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته لاره ومونده په ۱۳۹۲ کې یې د پوهنتون د لسانس دوره په بریالیتوب سره پای ته ورسوله. ښاغلی پشتون چې کله له پوهنتون څخه فارغ شو نو خوست شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی کې په ۱۳۹۳ کال کې د علمي کادر په توګه مقرر شو او د استادۍ مقدسه دنده یې پیل کړه، د استادۍ په جریان کې د ماسترۍ زده کړو لپاره په ۱۳۹۶ کال کې کابل نړیوال پوهنتون ته شامل شو او خپلې ماسترۍ زده کړې یې په کابل پوهنتون ملي اقتصاد په برخه کې بشپړې کړې. ښاغلي پشتون یو کتاب( نړیوال اقتصاد تجارت او تمویل) د انګلیسي ژبې څخه پښتو ژبې ته ژباړلې دي. استاد په نړیوالو ژورنالونو کې په انګلیسي ژبه مقالې هم خپرې کړې او په داخلي ژورنالونو کې هم مقالې لري.

استاد د پوهنتون او پوهنځی په کچه په مختلفو کمېټو کې د رئیس او غړي په توګه برخه اخیستې ده، د بېلګې په توګه لکه د پوهنتون په کچه د شکایاتو او شفافیت عمومي کمېټه، ازموینو عمومي کمېټه، او همدا شان د پوهنځی په کچه د کیفیت لوړونې کمېټه، ستراتیژیک پلان کمېټه او د دې تر څنګ یې نظم دیسیپلنی کمېټې او نورو ټولو کمېټو کې د غړي په صفت پاتې شوی استاد پشتون اوس مهال د ملي اقتصاد څانګې برحال آمر او د اقتصاد پوهنځی د شکایاتو او شفافیت کمېټې مشر مسؤلیت هم لري.

## د استاد پوهنمل غازي پتنګ ژوند لیک:

استاد غازي پتنګ د میرحکیم زوی د خوست ولایت د اسمعیل خیلو او مندوزیو ولسوالی اوسیدونکی دی. استاد غازی پتنګ لومړنۍ زده کړې د محمد صدیق روهی په عالی لیسه کې په ۱۳۸۶ ه ش کال تکمیل کړي دي . او اقتصاد په برخه کې لیسانس زده کړې یې په شیخ زاید پوهنتون کې په ۱۳۹۱ ه ش کال تکمیل کړي دي، د ماستری یې د اقتصاد په برخه کې د روسیې هیواد د جنوبی فدرال پوهنتون کې تر سره کړي . د لومړی ځل لپاره د د خوست ولایت د کثیر الرشتوي انستیتوت کې رسمي استاد په حیث تر دوه کاله زیات د استادي تر سره کړي او په کال ۱۳۹۴ ه ش کال کې د شیخ زاید پوهنتون د اقتصاد پوهنځی د ملي اقتصاد څانګه کې د رسمي استاد په خیث دنده پیل کړي.

د استاد لخوا د نړیوال اقتصاد تیوری او سیاستونو په نوم علمي کتاب څخه د تجارتي سیاستونو وسایل برخه ژباړل شوي ده . او همدارنګه د استاد د (Digital Transformation of Islamic Finance Industry in Modern Conditions ) تر عنوان لاندې د ماستری تیزس لیکلی دی.

د استاد غازی پتنګ لخوا دري نړیوالي مقالې )د افغانستان په ګمرکونو کې د فساد مخنیوی ، د تعلیم په پراختیا کې د وقف ماډل رول – د افغانستان څخه شواهد ، په افغانستان کې د انفلاسیون اندازه کولو لپاره د CPI اهمیت( تر عنوانو لاندې لیکلی دي. ښاغلی پوهنمل غازی پتنګ فعلا د ملي اقتصاد څانګه کې د استاد په حیث او د لوړو زده کړو وزارت لخوا د خارجي بازنګر په ډول خپله مقدسه دنده پر مخ وړي

## د استاد پوهنمل عبد الفتاح مفلح ژوند لیک:

پوهنمل عبد الفتاح مفلح د عبد الحکیم زوی د لوګر ولایت د ځرخ ولسوالی څخه دی. مفلح په ۱۳۸۸ کې د عمر فارروق عالي لیسې څخه فارغ شوی او په ۱۳۹۲ کې د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځی څخه د لیسانس په کچه او په ۱۳۹۵ کال کې د ملي اقتصاد په برخه کې د ماسټري برنامې څخه فارغ شوی دی. مفلح دوه داخلي مقالې، دري نړیوالې مقالې او یو څېړنیز اثر تر اوسه نشر کړي دي. اوسمهال مفلح د اسلامي اقتصاد په برخه کې د افغان نړیوال اسلامي پوهنتون د دوکتورا په کچه زده کړه کوي.

## د استاد نوماند پوهنيار عبد الوهاب زهیر ژوند لیک:

استاد عبدالوهاب زهیر چې لومړنۍ زده کړې يې د ترتیوال عالي لیسه کې ترسره کړې او د ځلورم ټولګي ته په تګ سره يې په هماغه ټولګي کې اعلی درجه حاصله کړه او په کال ۱۳۹۴ ه ش کې له ترتیوال ښوونځی څخه په اعلی درجه فارغ شوی. استاد زهیر له فارغ کیدو سره سم په ولس غړ خصوصي ښوونځی کې د ښوونکي په صفت دنده ترسره کړې او په ۱۳۹۴ه ش کال کې تر فارغیدو وروسته یې د کانکور آزموینه ورکړه ، چې خوشبختانه د خپلې خوښې پوهنځی اقتصاد ته بریالی شوي.

استاد زهیر په ۱۳۹۸ه ش کال په اواخرو کې د اقتصاد پوهنځی ملي اقتصاد څانګې څخه په اعلی درجه فارغ شوی او د ۱۳۹۸ ه ش کال کې د یوه خصوصي شرکت کې د مالي مدیر او همدا شان د خوست بریا خصوصي ښوونځی کې یې د ښوونکي په صفت خدمات ترسره کول. د ۱۳۹۹ ه ش په اواخرو کې د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی ملي اقتصاد څانګې کادري بست کې بست ګټونکی شو ، چې تر اوسه استاد زهیر په همدغه برخه کې د خپلې ټولنې لپاره خدمات وړاندې کوي.

## د استاد نوماند پوهنيار شفيق الله هلال ژوند لیک:

شفيق الله هلال د معصوم خان زوی د متون ورغه کلی اوسیدونکی په ۱۳۹۴ ه ش کال کې د الفتح عالي مرکزي لیسې څخه په اعلی درجه فارغ شوي، چې لومړي نیمه لوړې زده کړې يې د خوست ولایت په تخنیکي او مسلکي انستیتیوټ کې په اداره او حسابداری برخه کې بشپړې کړیدي، چې تر فراغت وروسته يې د کانکور آزموینې له لارې شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته د زده کړو لاره پیدا کړه او په ۱۴۰۲ کال کې د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځي څخه د لسانس په کچه فارغ شوی دی. چې په ۱۴۰۳ ه ش کال کې د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځي ملي اقتصاد څانګه کې په کادري آزموینه کې د بست ګټونکي اعلان شو او په اقتصاد پوهنځی ملي اقتصاد څانګه کې یې د استادۍ مقدسه دنده پیل کړه
.

## د مالي او بانکي څانګه:

## د مالي او بانکي څانګې پېژندنه:

لکـه څرنګـه چـې پورتـه هـم یادونـه وشـوه چـې د اداره او تجـارت څـانګې وروسـته مـالي او بـانکي څانګـه ایجـاد شـوه او د اقتصـاد پـوهنځي لـه فعـالو څـانګو څخـه یـوه څانګـه ده ، مـالي او بـانکي څانګه پـه ۱۳۹۲ هـ ل کـال کې تآسیس شـوه، چې په هغـه وخت کې پې څلـور اسـتادان درلـودل چـې یـو ماسـټر یـو لیسـانس او دوه نـور یـې پـه جرمنـي کـې پـه ماسـټري بانـدې بوخـت وو.

مـالي او بـانکي څانګـه ۱۴۰۱ کـال کـې د سـختو سـتونزو سـره مـخ وه، چـې د اسـتادانو کمښـت یـې تـر ټولـو سـتره سـتونزه وه، چـې یـوازې دوه اسـتادان یـې درلـودل. وروسـته د څـانګې پـه هڅـو او د پوهنتـون رهبـرۍ پـه مرسـته خـالي بسـتونه بېرتـه ډک شـول. مـالي او بـانکي څـانګې پـه ۱۴۰۲ کـال درې اسـتادان لـرل، چـې دوه یـې ماسـټران او یـوتن یـې لیسـانس ؤ او یـو تـن لیسـانس اسـتاد چـې دا مهـال پـه روسـیه هېـواد کـې ماسـټري بانـدې بوخـت دی او همدارنګـه د علمـي رتبـو پـه اسـاس دوه تنـه اسـتادان پوهنمـل او یـو تـن یـې نـامزاد پوهنیـار دی چـې پـه مـالي او بانکي څانګه کې خپلې دندې پر مخ وړي.

اوس مهـال پـه ۱۴۰۳ کـال کـې مـالي او بـانکي څآنګـه ۶ اسـتادان لـري، چـې یـو اسـتاد یـې روسـیې هېـواد کـې ماسـتري درسـونه پـه مـخ وړي، یـو تـن اسـتاد محمـد اقبـال سـکندر کابـل پوهنتـون ماسـترۍ تـه معرفـي شـوی، او نـور ۴ تنـه اسـتادان، چـې ۲ یـې پوهنمـل او دوه یـې نوماند پوهنیار دي دي فعلا په تدریس بوخت دي.

## د مالي اوبانکي څانګې لرلید او ماموریت او ستراتیژیکې موخې:

## لرلید (Vision)

مالي او بانکي څانګه هڅه کوي چې مالي او بانکي چارو اړوند مستعد ، مخکښ او په معیار برابر کادرونه وروزي،. همدا شان موږ زیار باسو چې د ټولنې وکړو د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې پراخه ونډه واخلو .

## مأموريت (Mission)

د مالي او بانکي چارو څانګه ژمنه کوي چې د پوهنتون او پوهنځي لخوا ورسپارل شوی مسؤلیتونه په خورا صداقت ، ایمانداری، دقیقه او معیاري توګه ترسره کوي ، همداشان مالي او بانکي چارو څانګه ژمنه کوي چې د هېواد په کچه د مالي منابعو مدیریت ، او عادلانه وېش لپاره په اغیزمنه توګه کار کوي.

## موخې:

- د علمي، تخصصي، تحصیلي او مالوماتي – تکنالوژیکي سطحې له نګاه څخه د څانګې د کادري غړو ارتقا .
- په دوامداره توګه د څانګې د علمي کادر غړو د علمي – مسلکي سطحې تازه ساتل.
- د علمي – مسلکي کتابونو لیکل.
- په علمي – مسلکي کتابونو او اثارو د مجهز کتابتون تهیه او تدارک.
- په علمي او مسلکي اړونده ساحو کې د تجربو او لاس ته راوړنو د تبادلې او استفادې په منظور د علمي – تحصیلي بنسټونو سره د ارتباط تامین.
- د ټولني اړتیاو ته په کتو د پوهنځي درجې ته د مالي او بانکي څانګې ارتقا .
- د څانګې ټولو ماستر استادانو ته د دکتورا زمینه برابرول.
- د کریکولم او درسي نصاب د معاصر ساتلو په خاطر د اړونده استعدادونو، متخصصینو، محصلانو او اهل مسلک سره د غونډو په لاره اچول.
- د ډیپارټمنټ د مادي – تخنیکي پایې توسعه او پراختیا
- د ماسټرۍ او دوکتورا په سطحه د لوړو زده کړو په ساحه کې د کادر تربیه.
- د اړونده ملي او نړیوالو څېړنیزو پروژو په لاره اچول.
- د منطقې او نړۍ په سطحه د اړوند علمي او اکاډمیک موسساتو سره د اړیکو تامین.
- د ملي، سیمه ایزاو نړیوال اقتصاد په سطحه د رشتوي نویو منځ ته راغلو مشکلاتو په تجزیې او تحلیل په منظور فورمونو تدویر او تشکیل.
- کادر او تخصص ته د اړتیا د تثبیت په موخه د ترلو ارګانونو په ګډون د محفلونو، مجلسونو او ورکشاپونو په لاره اچول.

## د مالي او بانکي څانګې اداري تشکیل:




## د مالي او بانکي څانګې استادان:

مالي او بانکي څانګه، د اقتصاد پوهنځی تر چتر لاندې فعالیت لري. په دې ډیپارټمنټ کې د څانګې د آمر په شمول ۶ تنه کادري غړي دي، چې د یادې څانګې اداري او علمي بهیر پر مخ وړي. د یادې څانګې آمر او اړوند علمي کادرونه په لاندې جدول کې در پېژنو.

| ګڼه | نوم او تخلص | د پلار نوم | علمي درجه | علمي رتبه | تخصصي رشته | دنده | عمر | انځور |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | رحمت الله منګل | بهرام خان | ماستر | پوهنمل | اسلامي بانکوالي | د څانګې آمر | ۳۸ |  |
| ۲ | ګل ولي محمد زی | محمد علي | ماستر | پوهنمل | مالي او بانکي | استاد | ۳۷ |  |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | محمد عثمان شریفي | محمد شریف خان | لیسانس | نوماند پوهنیار | مالي او بانکي | استاد | 28 |  |
| ۴ | اقبال سکندر | محمد رفیق | لیسانس | نوماند پوهنیار | مالي او بانکي | استاد | ۲۶ |  |
| ۵ | فضل محمد احمدي' | ګلام خان | لیسانس | نوماند پوهنیار | مالي او بانکي | استاد | ۲۵ |  |
| ۶ | رمضان | دین محمد | لیسانس | نوماند پوهنیار | مالي او بانکي | استاد | ۲۴ |  |

## د مالي او بانکي څانګې کریکولم:

| کڼه | مضمون | ټولګي | سمستر | نوعیت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | عامه مالي چارو بنسټونه | اول ټولګی | دویم | اساسي |
| ۲ | پیسو اقتصاد | دویم ټولګی | دریم | اساسي |
| ۳ | عامه اقتصاد | دریم ټولګی | پنځم او شپږم | تخصصي |
| ۴ | عامه بودیجه تیوري | دریم ټولګی | پنځم | تخصصي |
| ۵ | عامه بودیجې سیاست | دریم ټولګی | شپږم | تخصصي |
| ۶ | پیسو سیاست | دریم ټولګی | اووم | تخصصي |
| ۷ | مالي سیاست | څلورم ټولګی | اتم | تخصصي |
| ۸ | دولتي قرضونه | څلورم ټولګی | اتم | تخصصي |
| ۹ | خطر مدیریت | څلورم ټولګی | اووم | تخصصي |
| ۱۰ | بیمه | دریم ټولګی | پنځم | تخصصي |
| ۱۱ | مالي او پیسو مارکېټونه | دریم ټولګی | شپږم | تخصصي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | بانکوالي | څلورم ټولګی | اووم | تخصصي |
| ۱۳ | اقتصادي حقوق | دویم ټولګی | څلورم | اساسي |
| ۱۴ | دولتي محاسبه | دریم ټولګی | شپږم | تخصصي |

## د مالي او بانکي څانګې فارغین:




## د مالي او بانکي څانګې د استادانو او محصلینو لاسته راوړنې:

د مالي او بانکي څانګې له خوا په تېر ژمي کې یو ورکشاپ د عوایدو راټولونې او بودیجې جوړونې تخنیکو نه تر نامه لاندې محصلانو ته وړاندې کړل شو، چې د ښاروالۍ څخه کارمندان پکې را غوښتل شوي وو تر څو محصلانو ته په عمل کې د عوایدو تخمین او را ټولولو ښیي او همدا شان په دې ورکشاپ کې محصلانو ته و ښودل شوه، چې بودیجه د ښاروالیو په ادارو کې څه ډول تخمینیږي او د نورو ادارو سره یې څه فرق دی.

په دې درې ورځیني ورکشاپ کې محصلانو ته په ځانګړو فورمونو کې، چې د ښاروالۍ ادارې له خوا برابر شوي وو، و ښودل شوه، چې هر کال ښاروالۍ عواید څنګه پیشبیني کوي، او همدا رنګه له کومو تخنیکونو څخه ګټه پورته کوي، چې بودیجه تخمین کړي، د دې تر څنګه ورکشاپ کې د ښاروالیو د عوایدو لوړوالي په علتونو هم بحث وشو.

د ورکشاپ په پای کې په محصلانو باندې د ورکشاپ د ارزولو پوښتنپاڼې و وېشل شوې، چې د محصلانو له خوا مثبت و ارزول شو او د دوی لخوا د داسې ورکشاپونو د دایرولو غوښتنه وشوه.

په پای کې د محصلینو له خوا پوهنمل رحمت الله منګل ته د داسې ګټورو خدمتونو یو ایوارډ ورکړل شو. او همدا شان محصلانو ته هم د ورکشاپ د ګډون تصدیق پاڼې و وېشل شوې.

د دې تر څنګ د مالي او بانکي څانګې استادانو هر یو ګل ولي محمدزی له خوا درې پښتو او څلور انګلیسي او رحمت الله منګل له خوا څلور پښتو او درې انګلیسي مقالې په نړیوالو او داخلي علمي ژورنالونو کې نشر شوي دي او همدا شان د استاد رحمت الله منګل له لوري پامیر پوهنتون کې محصلانو او استادانو ته یو علمي سمینار او علمي مقالې موندنې هم وړاندې شوي دي.


مالي او بانکي څانګه د اقتصاد پوهنځی په کتابتون کې یو کوچنی ځانګړی کتابتون لري، چې د مالي او بانکي څانګې استادانو په هڅو په سلګونه کتابونه ورته راټول شوي او همدا شان د استاد رحمت الله منګل له خوا دوه الماری په شخصي لګښت ورته ډالۍ شوي.

مالي او بانکي څانګې استادان ځینې ژباړل شوي او ځینې لیکل شوي کتابونه لري، چې د مالي او بانکي څانګې پخوانی استاد رحمن الله رسا یو کتاب ژباړلی دی او د دې تر څنګ زموږ د ځینو استادانو هر یو ګل ولي محمدزي دوه کتابونه د اقتصادي ریاضي یې چاپ او احصائیه یې چاپ ته تیار دی استاد محمد عثمان شریفي یو کتاب، او استاد محمد اقبال سکندر هم یو کتاب نا چاپ کتابونه دي.

د پوهنمل رحمت الله منګل درې کتابونه، چاپ شوي دي، چې دوه د عامه اقتصاد او عامه بودیجې په نوم یې ژباړل شوي او یو کتاب د پیسو اقتصاد په نوم یې لیکل شوي کتاب دی.

## د مالي او بانکي څانګې د استادانو ژباړل شوي او ليکل شوي اثار:




## د مالي او بانکي څانګې د استادانو چاپ او ناچاپ اثار:

| ګڼه | د استاد نوم | د کتاب نوم | د چاپ کال |
|---|---|---|---|
| ۱ | رحمن الله رسا | تمويل | چاپ ۱۳۹۱ |
| ۲ | ګل ولي محمدزي | د اقتصادي رياضي | چاپ ۱۳۹۶ |
| ۳ | ګل ولي محمدزي | احصائيه | ناچاپ |
| ۴ | رحمت الله منګل | عامه اقتصاد | چاپ ۱۳۹۶ |
| ۵ | رحمت الله منګل | عامه بوديجه | چاپ۱۳۹۸ |
| ۶ | رحمت الله منګل | د پيسو اقتصاد | چاپ۱۴۰۰ |
| ۷ | محمد عثمان شريفي | بانکوالۍ مديريت | ناچاپ |
| ۸ | اقبال سکندر | کاروبار پېژندنه | ناچاپ |

## د مالي او بانکي څانګې د استادانو ژوند لیکونه:

## د استاد پوهنمل رحمت الله منګل ژوند لیک:

ښاغلی استاد پوهنمل رحمت الله منګل د خوست ولایت، موسی خیلو ولسوالۍ د زاړه کوټ په ستر کلي کې د الحاج بهرام خان په کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي، د ښاغلی استاد منګل کوچنیتوب د هجرت په لمن کې تېر شوی دی لمړنۍ زده کړې یې په پیښور کې حضرت قیس بن سعد لیسه کې تر سره کړي کله چې هېواد ته له هجرته بېرته راستون شو نو اتم او نهم ټولګي یې په خپل کلي زاړه کوټ کې د ازادۍ لیسه کې لوستي او د مکتب پاتې برخه یې په کابل کې د خوشحال خان ختک بابا په لیسه کې بشپړه کړې او له نوموړې لیسې څخه فارغ شوی، تر فراغت وروسته یې کانکور له لارې د ننګرهار پوهنتون اقتصاد پوهنځی ته لاره ومونده په ۱۳۹۲ کې یې د پوهنتون د لسانس دوره په بریالیتوب سره پای ته ورسوله. ښاغلی منګل چې کله له پوهنتون څخه فارغ شو نو خوست شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی کې په ۱۳۹۳ کال کې د علمي کادر په توګه مقرر شو او د استادۍ مقدسه دنده یې پیل کړه، د استادۍ په جریان کې د ماسترۍ زده کړو لپاره په ۲۰۱۷ کال کې د ملیشیا هېواد ته سفر درلود او هلته یې تر ۲۰۱۹ م پورې خپلې د ماسترۍ زده کړې د ملیشیا نړیوال اسلامي پوهنتون IIUM کې د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې بشپړې کړې. ښاغلي منګل دوه نور کتابونه ژباړلي،

چې یو کتاب یې (عامه اقتصاد) په نوم، او دویم کتاب یې د عامه بودیجې تیورۍ په نوم دی خو د پیسو اقتصاد په نوم کتاب د استاد لخوا لیکل شوی دی. استاد په نړیوالو ژورنالونو کې په انګلیسي ژبه مقالې هم خپرې کړې او په داخلي ژورنالونو کې ۵ مقالې لري.

استاد د پوهنتون او پوهنځی په کچه په مختلفو کمېټو کې د رئیس او غړي په توګه برخه اخیستې ده، د بېلګې په توګه لکه د پوهنتون په کچه د تضمین کیفیت عمومي کمېټه، څېړنې عمومي کمېټه، ازموینو عمومي کمېټه، د پوهنتون همکاریو جذب عمومي کمېټه، د پوهنتون تواميتونو عمومي کمېټه، اقتصاد ریاست ته د پوهنتون استازي په توګه، د څار عمومي کمېټو کې هر کال ټاکل شوی او همدا شان د پوهنځی په کچه د درې کالونو لپاره د

کیفیت لوړونې کمېټې مشر پاتې شوی، او د دې تر څنګ یې نظم دیسیپلنی کمېټې او نورو ټولو کمېټو کې د غړي په صفت پاتې شو فعلان د اقتصاد پوهنځی د څېړنې کمېټې مشر په حیث خپله دنده مخته وړي او د ځانګې امریت مسؤلیت هم لري.

## د استاد پوهنمل ګل ولي محمدزي ژوند لیک:

استاد ګل ولي محمدزی په کال۱۳۶۵میلادي کال کې دهجرت په دور کې د پاکستان د کورمې ایجنسۍ د زامو په کمپ کې په یوه دینداره کورنۍ کې پیدا شوی. لومړنۍ او ثانوي زده کړې یې د خوست ولایت د باک ولسوالۍ اړوند د کوټکیو په لیسه کې ترسره کړي ، منځنۍ او ثانوي زده کړې یې د خوست ولایت د باک ولسوالۍ اړوند د باک په عالي مرکزي لیسه کې بشپړې او په۱۳۸۴کال کې له یادې لیسې څخه په اعلی درجه فارغ او په۱۳۸۵ کال کې د شیخ زاید پوهنتون د ادارې او تجارت پوهنځي ته بریالی، چې وروسته په۱۳۸۸کال کې د یاد پوهنځي څخه د علمي کادر په درجه د فراغت سند ترلاسه کړ. استاد ګل ولي محمدزی په (۱۳۸۹) کال کې د د پوهنیار علمي رتبې ته ترفیع وکړه او په ۱۳۹۸ کال کې د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي په مالي او بانکي ځانګه کې د ماسټرۍ برنامې محصل او په ۱۴۰۱ کال کې له یادې علمي برنامې څخه په اعلی درجه فارغ شو. له فراغت وروسته په ۱۴۰۲ ه ش کال کې د ماسټرۍ تیزس په واسطه د پوهنمل علمي رتبې ته ترفیع وکړه. یاد استاد د اقتصادي ریاضي په نوم یو چاپي او د فدرالي احصایې په نوم یو غیر چاپي اثار لري.

په درنښت

پوهنمل ګل ولي محمدزی

## د استاد نوماند پوهنیار محمد عثمان شریفي ژوند لیک:

استاد محمدعثمان شریفي د محمد شریف خان زوی په 1995میلادي کال کې په خوست ولایت کې زیږیدلی دی. ښوونځی یې د خوست ولایت د محمد صدیق روهي عالي لیسه کې لوستی او په ۱۳۹۲ کال کې له یادې لیسې څخه فارغ او لوړې زده کړې یې شیخ زاید پوهنتون کې تر سره کړې دي، چې په ۱۳۹۷ کال کې د اقتصاد پوهنځی د مالي او بانکي ځانګې څخه د کادر په درجه د فراغت سند ترلاسه کړ ،استاد شریفي له فراغت وروسته په

۱۳۹۸ کال کې د اقتصـــاد پوهنځی د مالي او بانکي څانګې ته د علمي کادر غړي په توګه جذب شو ، چې اوس مهال په روسیه کې د سینټ پیټرزبورګ پوهنتون کې د Quantitative finance په برخه کې په ماسټري بوخت دی.

## د استاد نوماند پوهنیار فضل الرحمن احمدي ژوند لیک:

ښاغلی استاد فضل محمد ''احمدي'' د ګلام خان زوی په کال ۱۳۷۹ هــ ش کال کې د پکتیا ولایت زرمت ولسوالي د کلالګو کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زېږېدلی لومړنۍ زده کړې یې د کلالګو په عالي لیسه کې ترسره کړې دي په ۱۳۹۶ ه ش کال کې له یادې لیسې څخه په علی درجه فارغ او په ۱۳۹۷ هــ ش کال کې د لوړو زده کړو په موخه د کانکور عمومي ازموینې له لارې د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی مالي او بانکي څانګې ته بریالی او په ۱۴۰۱ هــ ش کال کې له یاد پوهنتون مالي او بانکي څانګې څخه د کادر په درجه د فراغت سند ترلاسه کړ ښاغلي استاد فضل محمد ''احمدي'' له فراغت وروسته په ۱۴۰۲ هـ ش کال کې د علمي کادرونو د جذب په پروسه کې د خوست شیخ زاید پوهنتون په کادري ازموینه کې بریالی او د یاد پوهنتون د اقتصــاد پوهنځي مالي او بانکي څانګې علمي کادر غړی شو.

## د استاد نوماند پوهنیار اقبال سنکدر ژوند لیک:

استاد محمد اقبال سکندر په کال 1996 میلادي کې د هجرت په دور کې د کوزې پښتونخوا په میرانشاه کې په یوه دینداره کورنۍ کې پیدا شوی. لومړنۍ زده کړې یې د پښتونخوا په میرانشاه کې ترسره کړي منځنۍ زده کړې یې وطن ته په راستنېدو سره د خوست ولایت په شهید محمد داؤد عالي لیسه کې بشپړې او په۱۳۹۳ کال کې له یادې لیسې په اعلی درجه فارغ اوپه۱۳۹۴کال کې دشیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځي ته بریالی،چې وروسته په۱۳۹۷کال کې د اقتصـاد پوهنځي له مالي اوبانکي څانګې څخه د کادرپه درجه د فراغت سند ترلاسه کړ ،استاد محمد اقبال سکندر له فراغت وروسته په اسلامي پوهنتون کې د استاد او د مالي اواداري معاون په حیث دنده ترسره کړي،همدا شان یې د شیخ زاید پوهنتون اقتصـاد پوهنځي له مالي اوبانکي څانګې سره د یوهمکاراستاد په حیث دنده تر

سره کوله له څو کلونو وروسته په۱۴۰۱المریز کال کې د کادري ازموینې وروسته د اقتصاد پوهنځي مالي او بانکي څانګې ته د علمي کادر غړي په توګه جذب شو!

## د استاد نوماند پوهنیار رمضان هڅاند ژوند لیک:

ښاغلی استاد رمضان "هڅاند" د دین محمد زوی په کال ۱۹۹۸ م کال کې د پکتیا ولایت سید کرم ولسوالي د بر سیجنک کلي په یوه دیندار ه کورنۍ کې زیږېدلی لومړنۍ زده کړې یې د سیجنک په عالي لیسه کې ترسره کړي دي په ۱۳۹۶ ه ش کال کې له یادې لیسې څخه په اعلی درجه فارغ او په ۱۳۹۷ ه ش کال کې د لوړو زده کړو په موخه د کانکور عمومي ازموینې له لارې د شیخ زاید پوهنتون مالي او بانکي څانګې ته بریالی او په ۱۴۰۱ ه ش کال کې له یاد پوهنتون مالي او بانکي څانګې څخه د کادر په درجه د فراغت سند ترلاسه کړ ښاغلي استاد رمضان "هڅاند" له فراغت وروسته پکتیا پوهنتون کې د اختتل شوې ازموینې له لارې د یاد پوهنتون تدریسي روغتون دعوایدو جمع کولو عمومي مدیریت ته بریالی او نوموړي په یاد روغتون کې د یو کال خدمت کولو څخه وروسته په ۱۴۰۳ ه ش کال کې د علمي کدرونو د جذب په پروسه کې د خوست شیخ زاید پوهنتون په کادري ازموینه کې بریالیتوب ترلاسه کړ او د یاد پوهنتون د اقتصاد پوهنځي مالي او بانکي څانګې علمي کادر غړی شو.

## د اداري کارکونکو ژوند لیکونه

## ښاغلی مجیب الرحمن محبوب ژوند لیک

ښاغلی مجیب الرحمن محبوب د محبوب الرحمن زوی په ۱۳۶۴ هـ.ش کال کې د خوست ولایت یعقوبیو او صبریو ولسوالي د ستر کلي په یوه دیندار ه کورنۍ کې زیږېدلی دی. تر دولسم ټولګي پورې زده کړې یې د پشاورالتقوی نمونوي عالي لیسه کې سرته رسولي او ۱۳۸۲ کال کې د پشاورالتقوی نمونوي عالي لیسې څخه په اعلی درجه فارغ او په ۱۳۸۳ کال شیخ زاید پوهنتون اداره او تجارت پوهنځی ته بریالی او ۱۳۸۶ کال کې په کادر کې له نوموړي پوهنځی څخه فارغ شوی دی. ښاغلی مجیب الرحمن محبوب له فراغت وروسته په ۲۰۰۸ میلادي کال څخه تر ۲۰۱۱ میلادي کال پورې په (DHSA) موسسه کې د

(Teacher Trainer) په‌صفت دنده ترسره کړې. په ۱۳۹۰ کال په اخیرو کې د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځي تدریسي عمومي مدیریت ته د ازاد رقابت له لارې کامیاب او د وظیفې په جریان کې د هیواد ټولو پوهنتونو ته د هند هیواد له خوا د( ICCR) ماستري بورسونه ورکړل شول چې په هغې کې ښاغلی مجیب الرحمن محبوب هم د هند هیواد عثمانیه پوهنتون ته په ۲۰۱۴ کال کې کامباب او په ۲۰۱۶ کال کې په( First Division With Destination) د ماستر په درجه فارغ شوی دی. چې فعلآ د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی کې د تدریسي عمومي مدیر په‌صفت دنده ترسره کوي.

## سید داود شاه سیدي ژوند لیک:

سید داود شاه سیدي د محمد علي شاه زوی، خوست ولایت شمل پیرانو شینکۍ کلي کې په ۱۳۵۶ه ش کال د مرحوم حاجی سید نورعلي شاه په‌یوه دینداره کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې دي . ښاغلي سیدي خپلې لومړنۍ زده کړې په مرکزکابل کې د عمراخان لیسه کې پیل ، منځنۍ زده کړې یې دخوست ولایت شمل پیرانو عالي لسیه کې ترسره کړېدی. نوموړي په کال ۱۳۸۶ه .ش کې د پوهان عبد الحی حبیبي عالي لیسې څخه په اعلی درجه کې فارغ او هم مهاله یې په ۱۳۸۷کال کې د کانکور ازموینه ورکړه ، چې په پایله کې دخوست شیخ زاید پوهنتون ژورنالیزم پوهنځی ته بریالي او له‌یاد پوهنځی څخه په ۱۳۹۰ه .ش کال کې فارغ شو .

ښاغلی سیدي له فراغت ورسته د شیخ زاید پوهنتون دځوان غږپه‌نوم راډیو کې د پښتو پرګرامونو ،پروډیوسر په‌صفت عملي کار تریو وخته‌پورې اجرا کړ. بالاخره سید داود شاه سیدي په ۱۳۹۱ه.ش کال کې دخوست شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی د اجرائیه‌مدیرپه صفت رسمي دنده پیل او تراوسه په‌همدې برخه کې خپله مقدسه دنده اجرا کوي .

## ښاغلی محمد یار ژوند لیک

ښاغلی محمد یار د فتح محمد زوی په ۱۳۶۷ه ش کال کال کې د خوست ولایت اسمعیل خیلو او مندوزیو ولسوالۍ د میته خان قوم شمشي خیلو کلی په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی دی.تر دولسم ټولګي پورې زده کړې یې د میته خان لیسې کې سرته‌رسولې او په ۱۳۸۶کال کې د میته خان لیسې څخه په اعلی درجه

فارغ او په ۱۳۸۷ ه ش کال شيخ زايد پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی ته بريالی او په ۱۳۹۱ ه ش کال کې د کيميا او بيولوژی څانګې څخه فارغ شوی دی.

ښاغلی مدير له فراغت وروسته په ۱۳۹۲ ه ش کال کې د خوست شيخ زايد پوهنتون اقتصاد پوهنځي تدريسي اجرئيه مدير په صفت دنده دنده پيل تراوسه پوري په همدې برخه کې خپله مقدسه دنده اجرا کوی.